# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



انجنیر داؤد اڅک

۲۳ اگست ۲۰۱۷

# د استقلال د ورځي ۹۸یمه کالیزه او بیلي انګیرني

دوې ورځي مخکي افغانانو په داخل او خارج کي د ازادۍ هغه ورځ و لمانځل کوم چي په کال ۱۹۱۹ میلادي کي د زمري د میاشتي پر اتویشتمه نیټه د ځوان ، وطندوسته ، زړه سوانده ، او مدرنیته پلوه پاچا غازي امان الله خان لخوا د خپلو وطندوستو او پر ازادۍ مینوو افغانانو په سربښنده د انګریزانو څخه واخیستل سوه .

ازادي په حقیقت کي هغه ارزښت دی چي انسانیت تعریفوي ، او د ژوند ښکلا تمثیلوي ، زما په اند که انسان ازادي ونلري او د خپلي خوښي ژوند کولو حق ځني اخیستل سوی وي بیله شکه انسانیت خپل ماهیت د لاسه ور کوي او انسان به د یوې وسیلي حیثیت غوره کړي . ځکه زه ټینګار کوم چي ازادي باید د ذات پر تعریف اضافه کړو .

فلسفي انسان پیژندنه Philosophical Anthropology د انسان په ذات کي څېړنه کوي او هغه ځانګړتیاوي ئې په ګوته کړیدي چي د انسان په ذات پوري اړه لري ، یعني ( فکرکول ، احساس کول ، عمل کول ) د انسان ذات بولي.

خو زه پدې اند یم چي ازادي نه یوازي د انسان په ذات کي شامله سي بلکه د منطق د تعریف پر بنسټ د ټولو شیانو پرذات باید اضافه سي ، پدې معنا چي منطق د فلسفي انسان پیژندني په خلاف ذات په عام ډول په شي کي پلټلی او داسي ئي تعریف کړیدی :

« ذات د یوه شي د ماهیت په معنا دی او ماهیت هغه ځانګړتیاوي دي چي د هغه په بدلون یا ورکیدو سره د شي اصلیت تغییر کوي » .

زه دعوه لرم چي ازادي هم د انسان طبیعي غریزه ده او هم د ماهیت د ځانګړتیاوو څخه یوه ځانګړتیا ده. نداچي انسان ذاتاً او طبیعتاً ازادي غوښتونکی دی بلکه ټول ژوندي موجودات ازادي غواړي او که لږ څه مخ ته ولاړ سو ټولي طبیعي او ټولنیزي پدیدي غواړي چي په ازادي کي ژوند وکړی او د نیوټن دري قوانین زما دعوه ټکنی کوي .

که موږ او تاسو د طبیعت او انسان و تاریخي سیر ته متوجه سو وینو چي انسان په طبیعت کي تکامل او په ټولنه کي پرمختګ د ازادو شرایطو پر بنسټ کړیدی څو د ابتدائي پړاو نه ورو ورو د طبیعت سره د ایکولوجیک سازش په کولو باندي اوسني عالیشانه شکل ته رارسیدلی او ښکلي ټولني ئې جوړي کړیدي .

که چیري د طبیعي یا ټولنیز کړند (جریان) څخه ازادي واخیستل سي او خپل ذاتي او انتخاب سوی مسیر طی نکړي بیله شکه به په طبیعت کي تکامل او په ټولنه کي پرمختګ ډیر ورو او نه احساسیدونکی وي ، بالاخره به طبیعي او

تولنيزي پديدې خپل ماهيت د لاسه ورکړي . اوس به دا اوږد فلسفي بحث پرېږدو او رابه سو د افغانستان استقلال ته چې ځني د نظر خاوندان ئې نمانځل پر ځای بولي او ځني ئې بې ځايه .
زه پدې باور يم چې د ازادی د ورځي د لمانځلو څخه هم معتقدين او هم منتقدين ښه او درسته انګيرنه نلري ځکه چې دواړه پلوه ازادي په اوسني حالت کي منعکس کوي .
پدې معنا چې : د افغانستان د ازادۍ د نمانځلو پلويان باور لري او په ډير شوق سره دغه ورځ ځکه نمانځي چې د دوی په اند افغانستان نن هم ازاد او د استقلال خاوند دی خو بل طرف بيا ادعا کوي چې افغانستان اشغال دی او د ازادۍ د ورځي نمانځل خوشي کار بولي ، دغه حالت دواړو خواو ته يو سوء تفاهم دی د ازادۍ د ورځي د لمانځلو په هکله .
د ازادۍ د ورځي نمانځل بايد پدې مفهوم نه وي چې افغانستان نن ورځ ازاد او مستقيل دی ، ملي حاکميت ، سياسي استقلال لري او د ملي ګټو د ساتلو او تقويه کولو لپاره خپله تصميم نيسي او فيصلي کوي بلکه برعکس موږ او تاسي شاهدان يو چې د جنګ ځپلي افغانستان په هکله تصاميم د امريکا د داويد په کمپ Camp David کي نيول کيږي چې نن يا سبا به خپلي فيصلي په مفصل ډول اعلان کړي ، موږ او تاسي بيا هم شاهدان يو چې د افغانستان حکومت مخکي لا په ډيره علاقه مندي او فروتني سره اعلان وکړ چې د امريکا لخوا هره فيصله موږ ته منظوره ده ( ناخوانده امضاء است ) .
اما نن ورځ د افغانستان عدم استقلال هم بايد پدې معنا نه وي چې موږ خپله پروني ازادي او د ازادۍ دلاری قهرمانان، غازيان او شهيدان هير کړو او هيڅ لمانځنه ، ياده ونه او عزت ئې ونکړو بلکه بر عکس پر هر افغان باندي فرض ده چې دغه ورځ په ډير برم او دبدبه سره و لمانځي . پدې خاطر چې ځان او خلګ په تيره بيا ځوانان د ازادۍ په قدر پوه کړو او د ازادۍ ماهيت او لذت ته ئي متوجه کړو . يعني دغه ورځ بايد په ډير محبت سره داسي و لمانځو لکه د خپل يو ګران ملي ، سياسي ، علمي ، هنري يا ادبي شخصيت د مړيني کاليزه چې لمانځو او د هغه ياد تازه کوو .
خو د ازادۍ او انسان توپير پدې کي دی چې انسان بيا نه سو را ژوندی کولای مګر د کلک عزم ملي يوالي او هدفمندي مبارزې په واسطه سره کولای سو چې ازادي بيا را ژوندۍ او محرومو افغانانو ته ئي عطا کړو .
اوس د ازادي غوښتونکو او وطندوستو افغانانو دنده ده چې د ازادۍ د بيرته لاسته راوړلو او د افغانستان د سمسورولو لپاره د خونخور جنګ پر ضد په يوه ملي پلاتفورم کي سره راټول سي او د عادلانه صلحي د ټينګښت لپاره کلکه او منظمه مبارزه پيل کړي ، کله چې افغانستان ته صلحه راسي طبيعي ده چې د خارجيانو د پاتيدو بهاني به وتښتي او د ملل متحد په حضور او تضمين کي به د ګران هيواد څخه ووزي او بالاخره به د يوه ازاد او ارام افغانستان خاوندان سو .
۲۲- ۸ - ۲۰۱۷